د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحليل هفته

گڼه: 388

(7-1 اسد 1401 هـ ش)

## د تاشکند غونډه؛ او له اسلامي امارت سره د نړيوالې ټولنې تعامل ته کتنه




دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

**د تاشکند غونډه؛ او له اسلامي امارت سره د نړیوالې ټولنې تعامل ته کتنه** ........................................ 3

- سریزه........................................................................................................ 3
- د کابل-تاشکند اړیکو نوی فصل ............................................................................ 3
- افغان-ازبک دوه اړخیزې اړتیاوې او فرصتونه.................................................................. 5
- د تاشکند کنفرانس د پایلو ارزونه .......................................................................... 7
- پایله ............................................................................................................ 8

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د تاشکند غونډه؛ او له اسلامي امارت سره د نړیوالې ټولنې تعامل ته کتنه

## سریزه

د ازبکستان پلازمېنه تاشکند د جولای پر ۲۶مه د افغانستان په اړه د یوې مهمې نړیوالې غونډې کوربه و، چې پکې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر هم رسما ګډون او وینا وکړه. دا غونډه له یوې خوا د افغانستان او په ځانګړې توګه د اسلامي امارت لپاره له ځانګړي اهمیت برخمنه وه او له بلې خوا د افغانستان او ازبکستان د ژورو او هراړخیزو اړیکو ښکارندویي هم کوي. په دې غونډه کې د امریکا، روسیې، اروپایي ټولنې، او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو په ګډون د ۲۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو ګډون کړی و، چې د کوربه هېواد له لوري د یوې پایلیزې اعلامیې په خپرولو سره پای ته ورسېده.

ازبکستان هغه هېواد دی چې په خورا مهارت سره یې د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې افغانستان سره د اقتصادي همکاریو په ګډون له ګنو فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې زمینه برابره کړې، پرته له دې چې د امریکا او نورو لوېدیځو قدرتونو د ناخوښۍ سبب شي، حال دا چې هغوی له لومړي سره پر اسلامي امارت د بندیزونو او د دغه نوي نظام د منزوي کولو په لټه کې وو. تاشکند نه یوازې له طالبانو سره مخامخ تعامل پیل کړی، بلکې نور هېوادونه یې هم د خپل قانع کوونکي دریځ پر مټ هڅولي چې کابل ته خپل ډیپلوماتان ولېږي، چې له ډلې څخه یې کابل ته د اروپایي ټولنې د ډیپلوماتانو لېږل یادولی شو.

په دې لیکنه کې د افغانستان-ازبکستان پر اړیکو او په تېره بیا د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو راوروسته دوه‌اړخیزو اړیکو او راشې درشې، له ازبکستان سره د اړیکو پر دوه‌اړخیزو اړتیاوو او فرصتونو، او د افغانستان په اړه د تاشکند کنفرانس پر مهمو بحثونو او لاسته راوړنو بحث کوو.

## د کابل-تاشکند اړیکو نوی فصل

ازبکستان له طالبانو سره تل د ښو اړیکو ساتلو هڅه کړې او نه یوازې د طالبانو په تېره دوره کې یې له اسلامي امارت سره اړیکې لرلې، بلکې په تېرو دوو لسیزو کې یې هم د افغانستان د سولې په بهیر کې رغند رول لوبولی دی. د طالبانو د تېرې دورې پر مهال، د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر عبدالعزیز کاملوف په ۱۹۹۹ کال کې، چې هغه مهال هم د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر و، کندهار ته سفر وکړ او هلته یې د طالبانو له بنسټګر او فقید رهبر ملا محمد عمر او

د کابینې له نورو غړو سره وکتل. هغه مهال د نوموړي د سفر هدف که څه هم په افغانستان کې د جګړې ختمولو هڅې يادې شوې وې، خو د پردې تر شا د هغه سفر موخه د تاپي ګازو نلليکې د پروژې په اړه خبرې اترې وې.

په تېره شل کلنه دوره کې هم ازبکستان د افغانستان د سولې بهير کې د خپل رغند رول له کبله له طالبانو سره حسنه اړيکې ساتلې وې. همدا لامل و چې د ۲۰۱۹م کال په اګست کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د طالبانو له پلاوي څخه د رسمي هرکلي له کبله پر ازبکستان نيوکه کړې وه. په هغه سفر کې د قطر سياسي دفتر رئيس ملا عبدالغني برادر ازبکستان ته د سفر پر مهال د دغه هېواد له بهرنيو چارو وزير عبدالعزيز کاملوف او د افغانستان لپاره د دغه هېواد د ولسمشر له ځانګړي استازي عصمت الله ايرګاشيف سره ملاقات کړی و.

په افغانستان کې د تېر رژيم له ړنګېدو او د طالبانو له بياځلي واک ته رسېدو سره، ازبکستان د افغانستان په تړاو د سيمې او نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله تر ډېره يو متمايز، منطقي او متوازن سياست خپل کړ. د افغانستان په چارو کې د ازبکستان د ولسمشر ځانګړي استازي عصمت الله ايرګاشيف په دې تړاو په يوه مرکه کې ويلي: "ازبکستان له طالبانو سره نژدې اړيکې لري او له طالبانو سره په ګڼ شمېر مسائلو کې تعامل لري ځکه ازبکستان طالبان يو داسې واقعيت ګڼي چې بايد ومنل شي." د ازبکستان دريځ دا دی چې طالبان د ټول هېواد پر خاوره بشپړ کنټرول لري او له هغوی سره د تعامل نه کولو په صورت کې نه يوازې د افغانستان داخلي ستونزې لا ډېرې پراخېږي، بلکې ګاونډيو هېوادونو او نړيوالې ټولنې ته هم له افغانستان څخه نوي ګواښونه متوجه کېدای شي. له همدې ځايه ده چې ازبکستان په افغانستان کې دا نوی او بنسټيز تحول درک کړی او له طالبانو سره يې له رسميت پېژندنې پرته بشپړ تعامل پيل کړی. د ازبکستان دا سياست د نړيوالې ټولنې له هرکلي سره هم مخ شو. د امريکا د بهرنيو چارو وزير يو ځل د ازبکستان چارواکو ته وويل: "له افغانانو سره ستاسو د پراخ بشردوستانه ملاتړ ډېر هرکلی کوو."

په تېر کابو يوه کال کې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ دوستانه اړيکې او راشه درشه د سيمې د نورو هېوادونو په پرتله زياته وه. لومړی ځل د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو ايله يوه مياشت وروسته د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر پر ۷مه د ازبکستان د بهرنيو چارو وزير د يوه لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ کابل ته سفر وکړ او د اسلامي امارت له چارواکو سره يې د سترو اقتصادي پروژو په اړه خبرې اترې وکړې. د ۲۰۲۲م کال د فبروري پر ۲۲مه هم د ازبکستان يوه لوړپوړي دولتي پلاوي کابل ته سفر وکړ. د ازبکستان د لومړي وزير د مرستيال سردار عمر زاکوف په مشرۍ دغه پلاوي په کابل کې د اسلامي امارت د رئيس الوزراء په ګډون ګنو چارواکو سره ليده کاته وکړل او د ګډو همکاريو د پراخولو او مهمو سيمه ييزو اقتصادي پروژو د پلي کېدو په تړاو يې خبرې اترې وکړې.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه د دوی دریځ بیا له لومړي سره دا و چې په یوازې سر به د دوی لپاره ستونزمنه وي چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني؛ خو د نړیوالې ټولنې د یوه همغږي اقدام په صورت کې به یې دوی هم د افغانستان د نوي حکومت په توګه په رسمیت وپېژني. ازبکستان درک کړې چې طالبان لږ تر لږه ۲۰ کال له لوېدیځ سره جنګېدلي او په اسانۍ سره تمه نه کېږي چې ډېر ژر دې د لوېدیځو هېوادونو له لوري په رسمیت وپېژندل شي او له همدې کبله باید د افغانستان له نوي نظام سره تعامل د رسمیت پېژندنې په پلمه ونه ځنډول شي. همدا راز ازبکستان دا هم درک کړې چې طالبان د حکومتولۍ په برخه کې هم ډېره لږ تجربه لري او له همدې کبله د داخلي ستونزو د هوارولو لپاره هم وخت ته اړتیا لري او سخته به وي چې په چټکۍ سره د رسمیت پېژندنې لپاره په ملي او نړیواله کچه د نړیوالې ټولنې شرایط ومنلی شي.

## افغان-ازبک دوه اړخیزې اړتیاوې او فرصتونه

افغانستان او ازبکستان د بېلابېلو عواملو له کبله ترخپل منځ حسنه اړیکو او ګډو همکاریو ته اړتیا لري او یو شمېر داسې فرصتونه شته دي، چې دغسې همکاریو ته زمینه برابروي. په لاندې کرښو کې ځینو دغو برخو ته اشاره شوې ده:

**ترانزیټ او تجارت:** اقتصادي همکارۍ، اړتیاوې او فرصتونه دواړو هېوادونو ته خورا زیات اهمیت لري. افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی او د خپلو سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لپاره د ګاونډیو هېوادونو ترانزیټي او ارتباطي لارو ته اړتیا لري. د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د کلني راپور د ارقامو له مخې، په ۲۰۲۰م کال کې د افغانستان او ازبکستان د دوه‌اړخیز تجارت کچه ۵۵۰ ملیون ډالره وه او تمه وه چې دا کچه به په ۲۰۲۳م کال کې دوه ملیارده ډالرو ته لوړه شي. که د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې خړې پړې وي، دغه سوداګریزه راکړه ورکړه به له شک پرته خورا زیان ویني، خو که دوه اړخیزې اړیکې د ښه والي په لور رواني وي، د دوه اړخیز تجارت کچه به هم مخ په زیاتېدو وي. له بلې خوا ازبکستان هم د افغانستان په څېر په وچه کې راګیر هېواد دی او افغانستان له نورې نړۍ سره د دغه هېواد د سوداګرۍ یوه مهمه دروازه بلل کېږي. د دې ترڅنګ افغانستان د خپلې اړتیا وړ برېښنا ډېره برخه هم له ازبکستان څخه واردوي.

**امنیت او ثبات:** ازبکستان د خپل ملي امنیت په اړه اندېښنې لري، چې په اوسني وخت کې د افغانستان له خاورې د داعش ډلې په ګواښونو کې راخلاصه کېدای شي. تازه د اپریل پر ۱۹مه داعش ډلې یوه ویډیو خپره کړه، چې د

افغانستان له خاورې يې د ازبکستان پر خاوره د توغنديز بريد ادعا پکې کړې وه. که څه هم دا بريد د دواړو هېوادونو چارواکو تایید نه کړ، خو داعش ډلې ادعا کړې وه چې له بلخ ولايت څخه يې د ازبکستان په سرحدي سيمه کې امنيتي مرکزونه په نښه کړي دي. طالبانو که څه هم په تېر کابو يوه کال کې داعش ډله تر ډېره بريده ځپلې ده او په ځانګړې توګه په وروستيو کې د دغې ډلې له لوري کوم خونړی بريد هم نه دی شوی، خو لا هم د افغانستان له خاورې د داعش ډلې د بريدونو ګواښ د ازبکستان په ګډون د منځنۍ آسيا د هېوادونو يوه جدي اندېښنه بلل کېږي.

د طالبانو په تېره دوره کې هم ازبکستان د افغانستان په خاوره کې د طاهر يلداش تر مشرۍ لاندې د ازبکستان اسلامي غورځنګ له فعاليت څخه اندېښنه لرله، او همدا لامل هم و چې په ۲۰۰۱م کې يې د تاشکند-واشنګټن له سرو اړيکو سره سره قرشي-خان آباد يا «کې‌ټو» هوايي اډه د امريکا په واک کې ورکړه او د ازبکستان له هوايي حريم څخه يې په افغانستان کې عملياتو ته اجازه ورکړه.

**د نشه يي توکو د کښت او قاچاق مخنيوی:** په افغانستان کې د نشه يي توکو کرکيله او نورو هېوادونو ته يې قاچاق بله هغه قضيه ده چې له نژدې همکاريو پرته به مبارزه ورسره اسانه نه وي. د اسلامي امارت رهبر د روان مېلادي کال په اپرېل مياشت کې د يوه فرمان له لارې د نشه يي توکو کښت ممنوع اعلان کړ، چې دا هم د ګڼو هېوادونو او په تېره بيا د سيمې د هېوادونو له لوري يو مثبت ګام وبلل شو.

**د ازبکستان د بهرني سياست بدلون:** په ازبکستان کې د اسلام کريموف له مړينې وروسته شوکت ميرضيايف په ۲۰۱٦م کال کې د دغه هېواد ولسمشر شو، او د نوموړي له واک ته رسېدو سره د دغه هېواد په بهرني سياست کې هم بدلون وليدل شو. ښاغلی ميرضيايف د سيمې له ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه افغانستان سره د حسنه او پراخو اړيکو غوښتونکی دی او بهرنی سياست يې د ازبکستان د ملي امنيت او اقتصادي پراختيا پر محورونو راڅرخي، کوم څه چې د دوه اړخيزو اړيکو د پراختيا لپاره يو فرصت بلل کېږي. همدا لامل هم دی چې دغه هېواد اوسمهال له اسلامي امارت سره د سيمې د نورو هېوادونو په پرتله ګرم تعامل ته ننوتی دی.

**د دواړو هېوادونو ترمنځ بېلابېل مشترکات:** د دې ټولو ترڅنګ افغانستان او ازبکستان د دوه اړخيزو اړيکو او مناسباتو لپاره بل فرصت دا لري چې د دواړو هېوادونو وګړي ديني، فرهنګي، قومي او تاريخي مشترکات لري او د همدغو مشترکاتو پر بنسټ هم دواړه هېوادونو نژدې اړيکو ته اړتيا لري. همدا لامل دی، چې د اسلامي امارت په مشرتابه کې د ازبک تبار مشر مولوي عبدالسلام حنفي حضور هم د دواړو هېوادونو په راشه درشه کې مثبت رول لوبولی دی.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د تاشکند کنفرانس د پایلو ارزونه

د تاشکند کنفرانس په تېر اگست (۲۰۲۱م) کې د اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې د افغانستان په اړه تر ټولو مهم نړیوال کنفرانس دی، چې د افغانستان په قضایاوو کې د ډېری ښکېلو هېوادونو استازو پکې گډون کړی و. دا غونډه پر امنیت، اقتصاد، او نړیوالو همکاریو متمرکزه وه.

که څه هم دا غونډه په افغانستان کې پر امنیت او اقتصادي پراختیا راڅرخېده؛ خو د غونډې د گډونوالو له لوري د افغانستان اړوند بېلابېل بحثونه وشول. د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر په دې غونډه کې د وینا پر مهال وویل: "له بحران-وروسته پړاو کې د افغانستان انکشاف او لاسنیوی د نړیوال او سیمه ییز امنیت لپاره خورا مهم دی." د هغه په وینا دا کنفرانس به په افغانستان کې له ثبات، امنیت او د دغه هېواد د اقتصاد په بیا رغونه کې د نړیوالې ټولنې له همغږي چلند سره مرسته وکړي.

دا غونډه د اسلامي امارت لپاره هم یوه لاسته راوړنه وبلل شوه. افغان پلاوي له یوې خوا نړیوالو ته پر یوه مهم ستېج خپل پیغام ورساوه او له بلې خوا پکې د افغانستان د کنگل شتمنیو د آزادېدو په تړاو پرمختگ وشو. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر په خپله وینا کې د اسلامي امارت ځینو لاسته راوړنو ته اشاره وکړه او ویې ویل، چې طالبان توانېدلي په لنډه موده کې امنیت ټینگ کړي، ملي بودجه له خپلو ملي عوایدو تامین کړي او د اداري فساد کچه صفر ته راښکته کړي. نوموړي ډاډ ورکړ چې د افغانستان له خاورې به د سیمې او نړۍ هېوادونو ته گواښ متوجه نه وي، بلکې طالبان غواړي افغانستان په سیمه کې د اقتصادي همکاریو پر مرکز تبدیل کړي. نوموړي همدا راز د امریکا له لوري د افغانستان د کنگل شوو شتمنیو د آزادېدو غوښتنه وکړه، چې د کنفرانس د ځینو نورو گډونوالو له لوري یې هم ملاتړ وشو. د افغانستان په چارو کې د روسیې د ولسمشر ځانگړي استازي ضمیر کابلوف دغې غونډې ته وویل، چې هېواد یې د امریکا له لوري د افغانستان "د غلا شوو" پیسو د بېرته ورکړې په اړه د طالبانو له غوښتنې ملاتړ کوي. له کنفرانس وروسته افغان پلاوي په تاشکند کې له امریکایي پلاوي سره د کنگل شتمنیو، اقتصادي ثبات او بشري مرستو په اړه دوه اړخیزه ناسته هم وکړه، چې پکې د امریکا د خزانې وزارت مرستیال هم گډون درلود.

د دغې غونډې له پای ته رسېدو وروسته کوربه هېواد ازبکستان یوه ۱۲ ماده ای اعلامیه خپره کړه، چې پکې په بېلابېلو برخو کې د افغانستان پر اقتصادي پراختیا، سیمه ییزو اقتصادي همکاریو (لکه د ترمذ-مزارشریف-پېښور رېل پټلۍ)، بشري مرستو، د افغانستان د شتمنیو پر آزادېدو، د افغان حکومت پر ملاتړ، د ټول شموله حکومت پر اړتیا، د

بشري حقونو او په تېره د ښځو د حقونو او د نجونو د تعلیم پر حق او ګڼو نورو موضوعاتو ټينګار شوی و. په اعلاميه کې همدا راز د افغان پلاوي له لوري ورکړل شوو ژمنو او بيانيې ستاينه هم شوې وه.

په دغه کنفرانس کې له تمې سره سم د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې په برخه کې کوم ښکاره پرمختګ ونه شو؛ خو په دغه کنفرانس کې له اسلامي امارت سره د افغانستان د نارسمي (de facto) حکومت په توګه چلند وشو او د ازبکستان د بهرنيو چارو وزير هم په خپله وينا کې افغان پلاوي ته د افغانستان د "موقت حکومت د پلاوي" په توګه ښه راغلاست ووايه او د کنفرانس د پای په اعلاميه کې هم افغان پلاوي ته ورته خطاب شوی و او د اسلامي امارت سرپرست حکومت پکې "د افغانستان د حکومت" په نوم ياد شوی و.

له نېکه مرغه اوسمهال د سيمې او نړۍ په کچه هېڅ هېواد په افغانستان کې د تاوتريخوالي او وسله والې مبارزې له لارې د نظام د بدلون ملاتړ نه کوي. له همدې کبله د دغه کنفرانس اهميت په دې کې هم و، چې د افغانستان د قضيې د هواري یوازېنی مناسبه لاره همدا ډول سيمه ييز او نړيوال کنفرانسونه دي، ترڅو ټول داخلي او خارجي لوري راټول شي او له دې لارې ورو ورو د افغانستان په اړه پر يوې داسې تګلارې سره سلا شي چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د تحول او پر افغانستان حاکم وضعيت او نظام په پام کې نيولو سره د دغه هېواد سياسي او امنيتي ثبات تضمين کړي.

## پایله

د تاشکند غونډه له يوې خوا د افغانستان-ازبکستان د دوه‌اړخيزو اړيکو د لا پراختيا او دوه‌اړخيزو اړيکو د يوه نوي فصل د پرانيستل کېدو ښودنه کوي، او له بلې خوا د اسلامي امارت له سرپرست حکومت سره د نړيوالې ټولنې د پراخېدونکي تعامل ښکارندويي هم کوي، ځکه په دې غونډه کې د سيمې او نړۍ په کچه د ډېرى هغو هېوادونو او نړيوالو سازمانونو استازو ګډون کړی و، چې د افغانستان په قضيه کې رول لري.

ازبکستان له يوې خوا د منځنۍ آسيا د نورو هېوادونو په څېر د افغانستان له خاورې خپل ملي امنيت ته له احتمالي ګواښونو څخه وېره لري او غواړي دا ګواښونه په افغانستان کې دننه مديريت کړي او له بلې خوا يې له افغانستان سره ګڼې اقتصادي پروژې او ګټې هم غوټه دي، ځکه ازبکستان آزادو اوبو ته لاره نه لري او له سوېلي آسيا سره د خپل تجارت د پراختيا لپاره د افغانستان مسير ته هم اړتيا لري. همدا لامل دی چې ازبکستان په افغانستان کې له هر حاکم دولت سره حسنه اړيکې ساتلې دي او دا اړيکې بيا تر ډېره پر اقتصادي محور راڅرخېدلې دي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې ترڅنګ د تاشکند غونډې د اسلامي امارت لپاره دا پیغام هم درلود، چې که څه هم یو شمېر هېوادونه یې د افغانستان د نارسمي (de facto) حکومت په توګه په رسمیت پېژني او ورسره تعامل کوي؛ خو په هر صورت کې د طالبانو له لوري د یو لړ خرګندو ګامونو له اخیستلو پرته به په رسمیت ونه پېژندل شي. همدا لامل دی، چې په دې غونډه کې هم له طالبانو څخه یو ځل بیا د یوه داسې حکومت د جوړېدو غوښتنې تکرار شوې چې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي او بشري حقونو، په تېره بیا د ښځو او نجونو د کار او تعلیم حق ته درناوی وکړي.

پای

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**له موږ سره اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com   info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ۰۷۰۰۳۳۰۵۷+۹۳

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)